بسم الله الرحمن الرحیم

# د خلافت په نشتون کې هره ورځ د غزې د ماشومان جنازې بار وي

د اکتوبر په ۷مه، د اشغال شوي فلسطین مسلمانانو په یوه ناڅاپي برید کې د یهودي دولت دفاعي ډالونه مات کړل؛ د دښمنانو د ظلم پر وړاندې یې د اسلامي خاورو د دفاع هوډ وکړ، خو د استعمارگر غرب –چې د وحشي صهیونیستانو ملاتړ کوي- له نړیوالو غندنو سره مخ شو.

له دغه برید سره د اشغالگرو یهودیانو ډلهایزه تېښته پیل شوه؛ له خپلو کورنیو او ماشومانو سره له سیمې ووتل؛ ځکه پوهېدل چې د دغو کورنو اصلي خاوندان د خپل عزت او کورونو ترلاسه کولو لپاره بېرته راځي. په ټولنیزو رسنیو کې ډېر داسې څه شته چې ښیي په یاد برید کې د جگړې په اړه اسلامي قوانین په پام کې نیول شوي او یهودي ښځو او ماشومانو ته زیان نه دی رسیدلی. خو استعمارگرو ځواکونو په خپل شیطاني او وحشیانه غچ کې دا قوانین مات کړل. هغوی تاریخی وحشت روان کړی او د جگړې په ستراتېژۍ کې یې د ماشومانو قصدي وژنه هم شته.

په غزه کې د ملکي خلکو د کورونو په بمبار او پر ښوونځیو او روغتونونو په راکټي بریدونو کې تر اوسه ۲۳۰۰ ماشومان وژل شوي. بشپړې کورنۍ له منځه تللې. دغه راز، غزه له هرې خوا محاصره ده او په بشپړ ډول ورته د خوړو، اوبو، تیلو او درملو د ننوتلو مخه نیول شوې ده.

په ټولنیزو رسنیو کې وینو چې یهودي دولت غزې ته د روانو خوړو اوبو چینې په سمنټو بندوي. د خلافت او د مسلمانانو د واحد مشر، خلیفه په نشتون کې د نړۍ په یوه ډېره گڼمېشته سیمه کې، چې ۲.۳ میلیونه خلک پکې اوسېږي، پر خلکو د ژوند د اساسي اړتیاوو سرچینې بندېږي!

د یهودي دولت یو بل روان وحشت دا دی چې دوی ناقانونه فاسفورس بمونه، چې غوښه تر هډوکې سوځوي او هېڅ ساکښ ژوندی نه پرېږدي، کاروي. دا بمونه پر هغو ملکي ښارونو غورځوي چې زرگونه ښځې، نارینه او ماشومان پکې بند دي. هغوی د یهودي اشغالگرو په څېر سیمه نه شي پرېښودی. ټول پوهیږي چې غزه د نړۍ تر ټولو ستر سرخلاصی زندان دی.

د اسلامي نړۍ د لاسپوڅو حکامو پوځونه له خپلو طلایي برجونو په ډار د فلسطیني ماشومانو د وژل کېدو ننداره کوي. دوی د دنیوي مقامونو او څوکۍ لپاره تر خپل اخلاص تېر شوي خو د فلسطین نوراني شهیدان د

اخروي مقامونو لپاره خپله وينه تويوي! د پوځونو پرمخ د پيغور تور داغ دی او د محمد صلی الله عليه وسلم د امت د سترګو پر وړاندې به لوی حساب ورکوي.

موږ د صهيونيستانو او د هغوی د نړيوالو ملګرو د جنايتونو شاهدان يو، په دې ډله کې مسلمان لاسپوڅي حکام هم راځي.

الله سبحانه وتعالی او د هغه رسول صلی الله عليه وسلم ته وفادار امت به هېڅکله متقي مسلمانان هېر نه کړي.

الله سبحانه و تعالی ته د حساب ورکولو په ورځ به ظالمان په هېڅ صورت بريالي نه وي او هرو مرو به خپله سزا ګوري.

**[وَالَّذِينَ كَسَبُوا السَّيِّئَاتِ جَزَاءُ سَيِّئَةٍ بِمِثْلِهَا وَتَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ مَا لَهُمْ مِنَ اللَّهِ مِنْ عَاصِمٍ كَأَنَّمَا أُغْشِيَتْ وُجُوهُهُمْ قِطَعًا مِنَ اللَّيْلِ مُظْلِمًا أُولَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ]**

**ژباړه:** «هغه خلک چې ناوړه کارونه کوي، د هر ناوړه کار جزا به د هغه په اندازه وي (نه ډېره)، پر هغوی به خواري مسلطه شي. هېڅوک او هېڅ شی هغوی له (عذاب) څخه نه شي خلاصولی، د هغو پر مخونو به داسې تړږمی خوره شوې وي لکه د شپې چې تورې پردې پرې غوړېدلې وي. هغوی د دوزخ مستحق دي، هلته به تل اوسيږي.» [يونس:۲۷]

## د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر غړی

## عمرانه محمد

## د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

**۱۴۴۵هـ.ق کال، د ربيع الثاني ۱۱مه**

**۲۰۲۳م کال، د اکتوبر ۲٦مه**